Region Jönköpings län

2014/05/09

# د ای.اس.بی.ال ESBL جوړوونکی باکتریاوی، د ناروغانو لپاره معلومات

د عفونت نه د ساتنې د ډاکتر د عفونت نه د ساتنې پاڼه

**د ای.اس.بی.ال څه شی ده؟**

ای.اس.بی.ال د "exended spectrum betalactamases" معنی لري. دا مادې (اینزیم) دي چه د کولمو باکتریاوې یې تولیدوي. دا مادې عادي انتي بیوتیک لکه پینسیلین تجزیه کوي. او په دې توګه د ای.اس.بی.ال تولیدونکي باکتریاوې د انتي بیوتیک په مقابل کې د مقاومت قدرت ترلاسه کوي. **مګر** که دوی عفونت منځ ته راوړي، کیدای شي چه د نورو انتي بیوتیک په وسیله د ناروغ درملنه وشي. ټول خلک په کولمو کې باکتریاوې لري، په اصطلاح د کولمو عادي ژوندي چاپیریال. دا د خوراکي موادو د تجزیې او د بدن د دفاعي سیستم لپاره مهمه ده. د ای.اس.بی.ال تولیدونکي باکتریاوې د کولمو داسې باکتریاوې دي چه په کولمو کې د لنډې یا زیاتې مودې په بهیر کې موجودې وي.

**آیا ای.اس.بی.ال کوم خطر لري؟**

د انتي بیوتیک په مقابل کې د مقاومت لرونکو باکتریواو لخوا تر ټولو نه زیات خطر دا دی چه د عفونت په صورت کې لازم انتیوبیوتیک تر لاسه نه شي. د ای.اس.بی.ال تولیدوونکي باکتریاوو د لرونکو زیاته برخه دا باکتریاوې په خپلو کولمو کې لري بیله دې نه چه دوی ناروغه وي، په اصطلاح **وړل**. د باکتریاوو لرل کومه ناروغي نه ده او تداوي ته اړتیا نلري. د ای.اس.بی.ال تولیدوونکي باکتریاوې د نورو باکتریاوو په مقایسه د ناروغیو زیات سبب نه ګرزي. که چیرې د ای.اس.بی.ال تولیدوونکي باکتریاوې د کومې ناروغي سبب وي، نو په زیاتو حالاتو کې دا کیدای شي د ادرار د کانالونو عفونت وي، مګر کیدای شي بل ډول عفونتونه هم وي. توپیر یې دا دی چه د ای.اس.بی.ال تولیدوونکي باکتریاوو د عفونت په صورت کې باید د نورو ډولو انتي بیوتیک په وسیله درملنه تر سره شي. کله کله درملنه په روغتون کې ترسره کیږي د دې په ځای چه سړی په کور کې ګولي وخوري.

**د ای.اس.بی.ال تولیدوونکي باکتریاوو څرنګه خپریږي؟**

د دې لپاره چه سړی د ای.اس.بی.ال تولیدوونکي باکتریاوو لرونکی شي باید باکتریاوې د خولې له لارې بدن ته داخلې شي. سړی کیدای شي د خوراک او اوبو په وسیله چه د کولمو باکتریاوې لري، په سرایت اخته شي، په خاصه توګه بهر ته د سفر په وخت کې. همدا راز باکتریاوې د تشناب نه وروسته د لاسو په وسیله هم بدن ته داخلیږي. په روغتیایي موسسو کې دا باکتریاوې د زخم یا کاتیتر څخه د یووه ناروغ نه بل ناروغ ته د لاسو د لارې سرایت کوي.

**آیا امکان لري چه ای.اس.بی.ال د بدن نه ورکې شي؟**

څرنګه چه د ای.اس.بی.ال تولیدوونکي باکتریاوې د کولمو د چاپیریال یوه عاده برخه وي نو کیدای شي چه دوی په بدن کې د ډیرې مودې لپاره پاتې شي (میاشتې- کالونه). سړی نه شي ویلای چه ستا په بدن کې دا باکتریاوې په څومره موده کې موجودې دي، مګر د زیاتې برخې کسانو د بدن نه باکتریاوې وروسته ورکیږي. د غایطه موادو زیاتې معاینې ته اړتیا نشته.

**ته باید کومو شیانو ته پاملرنه وکړې؟**

- د لاسونو حفظ الصحه لکه تل مهمه ده. د تشناب نه وروسته او د ډوډې خوړلو/ پخلي نه د مخه لاسونه په صابون او اوبو مینځه. ښه به وي چه تل د مایع صابون نه استفاده وکړې.
- ته مجبور نه یې چه په خپل چاپیریال کې خلکو ته ووایې چه ته د ای.اس.بی.ال تولیدوونکي باکتریاوې لرې.
- ته کولای شې په عادي توګه ژوند وکړې او د نورو کسانو سره تګ راتګ ولرې. همدا راز ته کولای شې په عادي توګه جنسي اړیکې ترسره کړې.
- که ته کوم زخم، د ادرار کتیتر یا استوما (سورې) لرې نو دا زیاته مهمه ده چه له بدلولو پانسمان نه وروسته لاسونه ومینځې. ته باید په حوض/ وان کې د لامبو په ځای شاور یا دوش وکړې. که ته په اسهال اخته یې یا د غایطې مواده بهیدل لرې نو ته باید په حوض/ وان کې د لامبو په ځای شاور یا دوش وکړې.
- که چیرې ته باید د انتیبیوتیک په وسیله تداوي شې نو دا ډیره مهمه ده چه تا ته مناسب انتي بیوتیک درکړل شي او د باکتریاوو د کرنې معاینه ترسره شي. د ستا د فایدې په خاطر ستا نه دا هیله کیږي چه خپل ډاکتر/ د غاښو ډاکتر ته د خپلو باکتریاوو د لرنې/ پخوانیو عفونتونو په هکله معلومات ورکړې.
- که ته په روغتون کې بستر شې یا باید جراحي عملیات شې یا په یوه خاص کور کې ځای په ځای شې نو دا ډیره مهمه ده چه ډاکتر ته ووایې چه تا د ای.اس.بی.ال تولیدوونکي باکتریاوې لرلې. په روغتیایي موسسو او خاصو کورونو کې دا ډیره مهمه ده چه حفظ الصحه او پاکول په دقیقه توګه مراعات شي تر څو باکتریاوې نورو کسانو ته سرایت ونکړي.

Ansvarig Smittskyddsläkare Malin Bengnér, Smittskydd Vårdhygien, Länssjukhuset Ryhov, 551 85 Jönköping. Tel 010-242 23 34